# افغان ښځې او د کوچني کاروبار خوځښت

## د ۲۰۲۵ کال د هڅو او نوښتګرۍ کیسه

په ۲۰۲۵ کال کې په کوچني اقتصاد کې د افغان ښځو ونډه
څېړنیز راپور د رسنیز لید لوري سره

**رویداد خبري آژانس**

۱۴۰۴ لمریز کال - سلواغه

# لړلیک

سریزه........................................ ۲
زمینه او مخینه................................۲
کلیدي پوښتنې..............................٤
د راپور موخې................................ ٤
د معلوماتو او ډېټا راټولولو میتود............٥
د راپور شننه او موندنې ...................... ٦
پایله ...................................... ۱۰
وړاندیزونه................................ ۱۱
اخځلیک، منابع او سرچینې.................. ۱۲

## سریزه

په ۲۰۲۵ کال کې د ستونزو او محدودیتونو سربیره، افغان ښځو د کوچني کاروبار په ډګر کې د پام وړ رول لوبولی دی. دمسوولینو په وینا، زرګونه ښځې د خیاطی، لاسي صنایعو، د خوړو تولیدات او آنلاین پلور په برخو کې په کار بوختې دي.
د دوئ په وینا، شاوخوا ۵۰۰۰ ښځو ته په مستقیم ډول او څه باندې زرو ښځو ته په غیرمستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده.

شمېرې ښيي، له هغو ښځو څخه چې په کوچنیو کاروبارونو کې بوختې دي، له ۵۰ – ۶۰ سلنې توانېدلې چې خپلې اقتصادي چارې جاري وساتي، چې یوازې په څو وروستیو میاشتو کې څه باندې زرو ښځو په بېلابېلو ولایتونو کې یادو فعالیتونو ته مخه کړې ده. همداراز، نږدې ۱۷ زره ښځې د کرنې، لاسي صنایعو او کورني تولیداتو په برخه کې کار کوي، چې له دې څخه۴۳ سلنه یې په ۱۸ ولایتونو کې محدودې شوې دي.

دا څېړنه د رسنيز لید له مخې د توصیفي – تحلیلي میتود پر بنسټ ترسره شوې ده. د معلوماتو شننه په کمّي او کیفي بڼه د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې د یوې آنلاین نظرپوښتنې له لارې ترسره شوې، چې شاوخوا ۱۵۰ افغان متشبثو ښځو له ۱۵ ولایتونو – لکه کابل، بدخشان، هرات، بامیان، بلخ، ننګرهار، لغمان، کنړ، فراه، کاپیسا، خوست، بادغیس، میدان وردګ، غور او جوزجان – څخه پکې ګډون کړی و، سربېره پر دې، په یاده څېړنه کې له میداني مرکو، رسنیزو راپورونو، د مسوولینو څرګندونو او د ښځو اړوندو بنسټونو معلومات او همداراز د ښځو د نوښتګرۍ عیني بېلګې هم کارول شوې دي.

## زمینه او مخینه

په تېرو دوو لسیزو کې په افغانستان کې کوچنی کاروبار او د ښځو نوښتګرۍ د معیشتي پراختیا او فقر د کمولو له مهمو محورونو څخه ګڼل شوي او د کورنیو او نړیوالو بنسټونو ځانګړې پاملرنه یې ځان ته اړولې ده.
د ۲۰۲۱ کال تر مخه، افغان ښځې په زیاتېدونکې توګه په بېلابېلو برخو کې بوختې وې او دغو فعالیتونو د کورنیو د اقتصادي وضعیت په ښه کېدو او د ښځو د ټولنیز مشارکت په زیاتوالي کې د پام وړ رول لوباوه.

د ۱۴۰۰ کال له سیاسي بدلونونو او د ښځو لپاره د رسمي تعلیمي او کاري فرصتونو له محدودېدو وروسته، د هغوئ د اقتصادي مشارکت تګلارې په بنسټیز ډول بدلې شوې.

د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام (UNDP) او د ملګرو ملتونو د ښځو د برخې (UN-Women) راپورونه ښيي چې په رسمي کاري بازار کې د ښځو ونډه کمه شوې، خو په مقابل کې د ښځو لېوالتیا کوچنیو کاروبارونو، کورنیو فعالیتونو او آنلاین سوداګریو ته زیاته شوې ده. د دې بدلون په پایله کې، کوچنی کاروبار د ښځو لپاره د اقتصادي فعالیت له وروستیو محدودو فرصتونو څخه ګڼل کېږي.

د وروستیو کلونو خپاره شوي راپورونه څرګندوي چې، افغان ښځې په ځانګړې توګه په سختو شرایطو کې، له خپلو فردي مهارتونو، غیررسمي ټولنیزو شبکو او کورني کار څخه د عاید د رامنځته کولو لپاره ګټه اخیستې ده.
پخوانۍ څېړنې ټینګار کوي، چې دا ډول فعالیتونه، که څه هم ډېر ځله له لږې پانګې او په کوچنۍ کچه پیل کېږي، خو په ګڼو موارد کې د نورو ښځو لپاره د کار زمینه برابره او د کورنیو اقتصاد یې پیاوړی کړې دی.

په عین حال کې، موجود ادبیات د ښځینه او نوښتګرۍ پر وړاندې جدي ننګونو ته هم اشاره کوي؛ لکه د لومړنۍ پانګې نشتوالی، بازار ته محدود لاسرسی، د وسایلو کمښت، ټولنیزې ستونزې او فشارونه.
سره له دې خنډونو، بېلابېل نظرونو، تجربې، موندنې او څېړنې ښيي، چې زده کړه، کاري تجربه، بنسټیز ملاتړ او آنلاین بازارونو ته لاسرسی د ښځو د کوچنیو کاروبارونو د بریا او دوام لپاره له مهمو عواملو څخه ګڼل شوي.

دغه څېړنیز راپور په ۲۰۲۵ کال کې د افغانستان په کوچني کاروبار کې د ښځو د رول ارزونې په موخه هڅه کوي، چې د پوښتنلیکونو، مرکو او د معتبرو بنسټونو د راپورونو پر بنسټ، په افغانستان کې د ښځو د اقتصادي نوښتونو او د هغوئ د رول په اړه هراړخیز او واقعي انځور وړاندې کړي.

# کليدي پوښتنې

رویداد خبري آژانس په دې څېړنیز راپور کې د لاندې پوښتنو د ځوابولو هڅه کوي:

1. په ۲۰۲۵ کال کې افغان ښځو ترټولو زیات په کومو کوچنیو کاروبارونو کې ونډه درلودله ؟
2. کوم عوامل د دې لامل شوي، چې ښځې کوچنیو کاروبارنو ته مخه کړې؟
3. هغه ښځې چې په کوچنیو کاروبارونو کې بوختې دي، خپله لومړنۍ مالي پانګه یې څنګه برابرې کړې ده؟
4. کورنۍ، ټولنې او بنسټونو له دغو ښځو سره کوم ډول ملاتړ کړی دی؟
5. د ښځو دغه اقتصادي مشارکت د هغوئ پر مالي ځواکمنتیا او د کورنۍ پر اقتصاد څه اغېزه کړې دی؟
6. په کوچنیو اقتصادي فعالیتونو کې د ښځو د ګډون تر ټولو مهمې ننګونې کومې وې او دا ننګونې څنګه مدیریت شوې دي؟

# د راپور موخې

دا راپور د ۲۰۲۵ کال په ترڅ کې په کوچني کاروبار کې د افغان ښځو د وضعیت د ارزونې په موخه چمتو شوی دی. په دې راپور کې اساسي محورونه په لاندې ډول دي:

- د ۲۰۲۵ کال په ترڅ کې په کوچني کاروبار کې د افغان ښځو د ګډون کچې ارزونه او په کوچنیو اقتصادي فعالیتونو کې د هغوئ د حضور روښانه انځور وړاندې کول؛
- د ښځو د اقتصادي فعالیتونو د ډولونو پېژندنه او له دغو فعالیتونو څخه د ترلاسه کېدونکي عاید کچې معلومول؛
- د ښځینه متشبثینو پر وړاندې د شته ننګونو او خنډونو شننه؛
- د ښځو د اقتصادي بریا په برخه کې د زده‌کړې، مهارتونو او ټکنالوژۍ د رول ارزونه؛
- د ښځو د کوچني کاروبار د پیاوړتیا او پراختیا لپاره د عملي او ګټورو وړاندیزونو وړاندې کول.

## د معلوماتو او ډېټا راټولولو میتود

دا څېړنیز راپور د توصیفي ـ تحلیلي مېتود پر بنسټ چمتو شوی دی.
د دې راپور معلومات او ډېټا د ۲۰۲۵ کال په ترڅ کې د یوه آنلاین پوښتنلیک له لارې راټول شوي، چې نږدې ۱۵۰ افغان متشبثو ښځو د هېواد له ۱۵ ولایتونو کابل، بدخشان، هرات، بامیان، بلخ، ننګرهار، لغمان، کونړ، فراه، کاپیسا، خوست، بادغیس، میدان وردګ، غور او جوزجان څخه پکې ګډون کړی و.
د پایلو بشپړولو لپاره، سربېره پر پوښتنلیک، له میداني مرکو، رسنیزو راپورونو، د مسوولینو څرګندونو، د ښځو اړوندو بنسټونو معلوماتو او د ښځو د نوښتګرۍ له عیني بېلګو څخه هم ګټه اخیستل شوې ده.
د معلوماتو شننه په کمي او کیفي بڼه ترسره شوې او اساسي محورونه یې د ګډونوالو د نفوس پېژندنې ځانګړتیاوې، د اقتصادي فعالیت ډول، د عاید کچه، ننګونې، زده کړه او مهارتونه، اقتصادي بدلونونه او د ښځو راتلونکې محوره لیدلوری شامل وو.

## د راپور شننه او موندنې

دا څېړنه د افغان متشبثو ښځو  له کیسو سره، په هېواد کې د کوچنې کاروبار تحرک، استقامت او ودې یو روښانه انځور وړاندې کوي. بېلګې ښیي چې له شته محدودیتونو سربېره هم د ښځو فردي نوښت او موخه ییز مدیریت د دې لامل شوی، چې کاري فرصتونه رامنځته، عواید زیات او بازارونه وغوړېږي.
د دغو متشبثینو له ډلې، اسما شریفي هغه لومړنۍ ښځه ده چې په افغانستان کې یې د آیسکریم د تولید شرکت بنسټ ایښی دی. نوموړې وایي:
چې اقتصادي فعالیت یې په تېرو څلورو کلونو کې دپام وړ وده کړې ده. هغې چې خپل کار یې په ۱۴۰۰ لمریز کال کې پیل کړی، د خپل شرکت د ۵۰ سلنې ودې یادونه کوي او ټینګار کوي چې ترلاسه شوي عواید یې تل بېرته د کار پراختیا په لاره کې لګول شوي دي.

اسما شریفي وایي:«موږ په ۱۴۰۰ لمریز کال کې خپل فعالیت پیل کړی او په څلورو کلونو کې مو ۵۰ سلنه وده کړې ده او هغه عواید مو چې ترلاسه کړي، بېرته مو د خپل شرکت د ودې او پراختیا لپاره مصرف کړي دي. په تېر یوه کال کې مو شپه او ورځ هڅه کړې، څو وده وکړو او بریا ته ورسېږو. موږ ډېر پیربدونکي جذب کړي دي او د خپلو محصولاتو پر کیفیت مو ځانګړې پاملرنه کړې ده او په تېر کال کې زموږ د ودې اصلي لامل همدا د کیفیت ښه‌والی و.»

د رویداد خبري آژانس موندنې ښيي چې خياطي، لاسي صنايع او انلاين پلور د تر ټولو عامو برخو په توګه د ښځو ترمنځ راڅرګند شوي، چې د پوښتنليک له ترلاسه شوو شمېرو سره سم، ٤١ سلنه ښځې په بېلابېلو ولايتونو کې د خياطۍ په برخه کې، له ٣٤ سلنې زياتې د لاسي صنايعو برخه کې، ١٩ سلنه د انلاين پلور په برخه کې او ٦ سلنه هغه يې په نورو برخو کې لکه نانوايۍ، د رستورانټ کار، د ژبو ښوونې او د خوراکي توکو توليد په برخو کې بوختې دي، چې دا شمېرې د کوچني کاروبار په چوکاټ کې د ښځو د معيشتي بېلګو ښکارندويي کوي.

## موندنې




سميرا محمدي، هغه ښځه ده چې يوازې د ٥ زره افغانيو په لومړنۍ پانګې سره يې اقتصادي فعاليت پيل کړ. هغې پيل کې د پيرکيو په پخولو او پلورلو پيل وکړ او تر لومړنۍ بريا وروسته يې خپل سره زر وپلورل او د ښځو لپاره يې يو کوچنی رستورانټ پرانيست.

سميرا محمدي:«په پيل کې مې يوازې ٥ زره افغانۍ درلودې او د پيرکيو په پخولو مې شروع وکړه، کار مې ښه پايله درلودله، خپل سره زر مې وپلورل او د ښځو لپاره مې يو کوچنی رستورانټ پرانيست. کار مې پراخه شو، اوس ٢٥ کارکوونکي لرم. غواړم په نورو ولايتونو کې هم ورته رستورانتونه جوړ کړم.»

همداراز څېړنې ښيي، چې کورونه او شخصي کارخونې د دغو ښځو د فعاليت اصلي ځايونه دي او د آنلاين فعاليتونو ونډه هم د پام وړ ارزول شوې ده.

شل کلنه آرزو، د بدخشان ولايت د کورنيو متشبثينو له ډلې څخه يوه بېلګه ده، چې د يوه کال په ترڅ کې يې په خپل کاروبار کې د پام وړ وده کړې.

آرزو وایـي: «خپل کار مې په کور کــې د مالګینو کلچو په پخولو سـره پیل کړ او ډېر ژر خلکو زموږ محصولات خوښ کړل او بازار ته یې لار موندله.»

په یوه بله بېلګه کې، کبرا احمدي، د فراه ولایت اوسېدونکې، چې خپل اقتصادي فعالیت یې د ډیجیټلي شبکو له لارې بازارموندنې په برخه کې پیل کړی دی.

کبرا احمدي:«زما کاروبار د پخوا په پرتله د پام وړ وده کړې او اوس داسې پړاو ته رسېدلې یمه، چې کولی شمه د ځوانانو لپاره ډېر کاري فرصتونه برابر کړمه.
په پیل کې مې یوازې د دوو کارکوونکو سره کار پیل کړ، خو اوس مې د کارکوونکو شمېر ۲٤ تنو ته رسېدلی دی.»

د دې څېړنې د موندنو له مخې، ډېری ښځې د ۱ تر ۵ کسیزو کوچنیو ډلو په چوکاټ کې کار کوي، که څه هم د لویو کارخونو بېلګې هم شته چې کاري ځواک یې ډېردی. د عاید له پلوه، که څه هم ځینې ښځې کافي عاید لري، خو د پام وړ شمېر ښځې لا هم له کمو او ناپایدارو عایداتو سره مخ دي.

روهینا نجیب برهاني د جوزجان ولایت له متشبثو ښځو او د زینت خیاطۍ مسووله وایي: « د خیاطۍ‌له یوه ماشین او دوو نجونو سره چې له ښوونځي پاتې شوې وې، کار مې پیل کړ. ورځ تر بلې مې وضعیت ښه کېږي او د کار کوونکو شمېر مې مخ پر زیاتېدو دی.»

د پوښتنلیک او میداني مرکو له مخې، د لومړنۍ پانګې نشتوالی، د وسایلو کمښت او بازار ته محدود لاسرسی شته ننګونې دي، چې د دغو ښځو لخوا راپور شوې دي. د یادو ستونزو سربیره، ټولنیزې او تعلیمي ستونزې هغه څه دي چې د ښځو پر اقتصادي فعالیتونو یې سیوری غوړولی دی.دا ښځې ټینګار کوي، چې د خپل کاري وضعیت د ښه‌والي لپاره مسلکي زده‌کړو او مهارتونو، کوچنیو پورونو ته لاسرسي، د سیمه ییز او انلاین بازارونو جوړولو، ټولنیز او کورنی ملاتړ، د بازارموندنې لپـاره د ټکنالـوژۍ کارولو، د ښځو لپاره د ځانګړو ننداړتونونو او کارخونو جوړولو، او د دولت او نړیوالو بنسټونو ملاتړ ته اړتیا لري.

نجیبه عمري، د کاپیسا ولایت د لبنیاتو او ترشي د تولید د کارخونې مسووله وایي:« د ترشــي مــواد په خپـل کــور کــې تولیدومه، په پیـل کې مې وســایل او تجهیزات نه درلـودل، اوس هم معیـاري وسایل نه لرم، د خپلو فعالیتونو د لا ودې لپاره کافي پانګه نه لرم او له مسوولینو او نړیوالو بنسټونو د ملاتړ غوښتنه کوم.»


په همدې حال کې، د اقتصادي چارو شنونکي په اقتصاد کې د ښځو رول مهم بولي او د ښځو اقتصادي پیاوړتیا ته د ځانګړې پاملرنې غوښتنه کوي.

محمد شــاکــر یعقوبي؛ د اقتصــادي چارو شنونکــی، وايي:«په ۲۰۲۵ کال کـې د ښځو کوچني کاروبارونه د کورنيو په اقتصاد کې مهم رول لوبولی دی، ښځې د لاسي صنـایعو، خیاطــۍ او د خوراکي تـوکو د بسته‌بنـدۍ له لارې د کـورنۍ مالي چارې تر یوه بریده پر مخ وړي، که څه هم بازار ته محدود لاسرسی، د پانګې نشتوالی او د قانوني ملاتړ نشتون له شته ننګونو څخه دي خو یاد فعالیتونه لا هم د ښځو لپاره د عاید مهمې سرچینې دي.»

په افغانستان کې کوچني کاروبارونه، په ځانګړي توګه د ښځو په محور، نه یوازې اقتصادي بقا لپاره وسیله ده، بلکې د پیاوړتیا، د کارموندنې او د ټولنیزیوالي د پیاوړتیا لپاره هم فرصت برابروي.


د رویداد خبري آژانش د انلاین پوښتنلیک موندنې ښیي،چې په کوچني کاروبار کې ډېری ښځې په هغه عمرونو کې دي چې د کار او عاید ورټیا لري، داسې چې، ٦٥ سلنه د ۲۱ تر ۳۰ کلونو او ۳۳ سلنه د ۳۱ تر ٤٠ کلونو عمرونو کې شته دي، چې دا د یوه ځوان او پیاوړي کاري ځواک ښکارندوی کوي.

## د عمر کټګوری



د زده‌کړو له پلوه هم، ٤٨ سلنه ښځې لوړې زده‌کړې لري، ٣٧ سلنه یې له دولسم ټولګي فارغې دي او یوازې ١٥ سلنه یې لومړنۍ زده‌کړې او یا هم له رسمي زده‌کړو بې‌برخې دي، د شمېرو له مخې، تعلیم او لوړې زدکړې د ښځو د نوښتګرۍ، ابتکار او اقتصادي مدیریت د هڅونې په پرمختګ کې اساسي رول لرلی دی.

## د تعلیم کچه




په عین حال کې، فریبا نوري؛ د افغانستان د ښځو د سوداګرۍ او صنایعو خونې مشره وایي، چې د ښځو لپاره د زده‌کړو او کاري فرصتونو ترمحدودېدو وروسته، ډېری ښځو کوچنیو کاروبارونو ته مخه کړې ده. د هغې په وینا، په وروستیو میاشتو کې د یادې اداري له لوري څه باندې زرو ښځو ته د کار جوازونه ورکړل شوي دي.

فریبا نوري: « اوس مهال د شرایطو له مخې هغه نجونې او ښځې چې له زده‌کړو پاتې شوې او یا یې خپلې دولتي دندې له لاسه ورکړې دي، کوچنیو کاروبارونو ته مخه کړې ده او ورځ تر بلې یې شمېر زیاتېږي. د یادونې وړ ده چې یوازې تېره اوونۍ له مرکزڅخه ٤٥ ښځو د ښځو د سوداګرۍ له خونې د غړیتوب ترڅنګ د لاسي صنایعو په برخه کې د کار جوازونه تر لاسه کړي. همداراز، یو شمېر ښځو د خوراکي توکو تولید ته مخه کړې او په تېرو څو میاشتو کې له بېلابېلو ولایتونو څخه تر زرو زیاتې ښځو کوچنیو کاروبارونو ته مخه کړې ده.»

د هغې په وینا، دا مهال له هغو ښځو څخه چې په کوچنیو کاروبارونو کې بوختې دي، شاوخوا ۵۰ تر ۶۰ سلنه یې د لاسي صنایعو په سکتورونو لکه خیاطۍ، د ستن کار او د غالیو په ګنډلو کې په عادي ډول فعالیت کوي.

په ورته وخت کې، ممتاز یوسفزۍ؛ د افغانستان د ښځینه کروندګرو د اتحادیې مشره وایي، چې په ۲۰۲۵ کال کې د ښځو فعالیت د کرنې په برخه کې کم رنګه او د لاسي صنایعو د تولید په برخه کې د هغوئ لېوالتیا زیاته شوې ده.

ممتاز یوسفزۍ:«د اټکل له مخې، شاوخوا ۱۷ زره ښځې د کرنې، کوچنیو سوداګریزو فعالیتونو او کورني تولیداتو په برخه کې بوختې دي. تر سیاسي بدلونونو وروسته، د ۲۰۲۱ کال په پیل کې له دغو ۱۷ زرو ښځو څخه ۵٤ سلنه یې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې فعالیت درلود، خو سږکال د دغو ښځو ډېرۍ تعداد لاسي صنایعو ته مخه کړې ده او دا مهال شاوخوا ٤۳ سلنه ښځې په یادو برخو کې فعالې دي، چې ډېرۍ یې د افغانستان په ۱۸ ولایتونو کې محدودې دي.»

په همدې حال کې، د ملګرو ملتونو د ښځو ځانګې (UN-Women) په خپل وروستي راپور کې په افغانستان کې د ښځو پر کار د محدودیتونو اغېزې ارزولې دي او ویلي یې دي، چې ۲۶ سلنه ښځینه کارکوونکې دېته اړې شوې دي چې له کور څخه کار وکړي، چې دا په کاري چاپېریال کې د ښځو فزیکي حضور ټکنی ښیي.

خو د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر په ۱۰مه راپور ورکړی، چې دې ادارې په ټول افغانستان کې له ۸۹ زرو څخه د ډېرو کوچنیو کاروبارونو ملاتړ کړی دی، چې ۹۱ سلنه یې د ښځو له خوا رهبري کېږي،
چې د همدې ملاتړ له لارې له ٤۳۹ زرو څخه ډېر کاري فرصتونه برابر شوي دي.
دا په داسې حال کې ده، چې تېرکال یادې ادارې دا شمېر ۸۰ زره اعلان کړی و؛
چې یادې شمېرې د کوچنیو کاروبارونو په برخه کې د ښځو څرګنده رول او د پام وړ زیاتوالی ښیي.

سره له دې ټولو مواردو، ذبیح‌الله مجاهد؛ د اسلامي امارت ویاند، د ښځو لپاره په ځانګړې ډول د کوچنیو کاروبارونو په برخه کې، د کاري اسانتیاوو د برابرولو یادونه کوي او وایي:
«د ښځو د سوداګرۍ خونې له لارې ۵ زرو ښځو ته په مستقیم ډول او له یو لک څخه زیاتو ښځو ته په غیرمستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده او همدارنګه په نورو برخو کې هم د ښځو د کار لپاره اسانتیاوې رامنځته شوې دي.»

# پـایلـــه

د رویداد خبري آژانس له لوري د دې څېړنیز راپور موندنې ښیي، چې په ۲۰۲۵ کال په افغانستان کې د محدودیتونو سره ـ سره د ښځو کوچنی کاروبار د هېواد له مهمو معیشتي سرچینو او تر ټولو فعالو اقتصادي برخو څخه ګرځېدلی دی.
افغان ښځې د فردي نوښت، موخه ییز مدیریت او د محدودو سرچینو څخه په ګټې اخیستنې توانېدلې، چې کوچني خو اغېزناک کاروبارونه رامنځته کړي او د دې سبب شوې چې د ځان او نورو لپاره د کار او عاید زمینه برابره کړي.
د فعالیتونو تنوع، له خیاطۍ او لاسي صنایعو څخه نیولې تر د خوړو د تولید او انلاین پلور پورې، په سختو شرایطو کې د ښځو د تطابق أو ظرافت څرګندونه کوي. که څه هم، د پانګې کمښت، د وسایلو نشتوالی او بازار ته محدود لاسرسی له شته ننګونو څخه دي، خو د کورنیو او نړیوالو بنسټونو موخه ییز ملاتړ ښودلې، چې د ښځو کوچنی کاروبار کولی شي وده وکړي او د فقر په کمولو او د کورنیو د اقتصاد په پیاوړتیا کې ستر رول ولوبوي.
په ټوله کې، د ښځو کوچنی کاروبار نه یوازې د بقا یوه لاره ده، بلکې د اقتصادي پیاوړتیا، مالي ځواکمنتیا او ټولنیز یووالي د پیاوړتیا لپاره یوه اغېزمنه وسیله هم ګڼل کېږي او دې برخې ته دوامداره پاملرنه کولی شي د افغانستان د ټولنیز اقتصادي ثبات او پراختیا لپاره مرسته وکړي.

# وړاندیزونه

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، په کوچني کاروبار کې د افغان ښځو د پیاوړتیا او پراختیا لپاره، د تعلیمي، ملاتړکوونکو، نړیوالو سازمانونو او دولتي بنسټونو لخوا لاندې اقدامات اغېزمن کېدای شي:

- د مسلکي او مهارتي زده کړو پراختیا: د عملي برخو لکه خیاطي، لاسي صنایع، بازارموندنې او د کوچنیو کاروبارونو مدیریت لپاره د روزنیزو کورسونو برابرول.
- مالي امکاناتو او کوچنیو پورونو ته لاسرسی: د ښځینه متشبثینو د اقتصادي فعالیتونو د پیل یا پراختیا لپاره، د کوچنیو پورونو صندوقونو او ځانګړې مالي اسانتیاوې برابرول.
- دسیمه ییز او آنلاین بازارونو رامنځته کول: د ښځو ملاتړ د دې لپاره چې محلي بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي او د آنلاین پلټفارمونو له لارې خپل محصولات وپلوري.

- ټولنيز او کورنی ملاتړ پیاوړی کول: د ښځینه متشبثینو دملاتړ لپاره د کورنیو او ټولنې هڅونه او د کلتوري خنډونو کمول.
- په بازارموندنه کې له ټکنالوژۍ ګټه اخیستنه: ښځو ته د ټولنیزو شبکو او ډیجیټل وسیلو د ګټې اخیستنې روزنه ترڅو خپل محصولات وپيژني او وپلوري.
- د ښځو لپاره د ځانګړو نندارتونونو او ورکشاپونو جوړول: د محصولاتو د نندارې او پلور لپاره په ځانګړو نندارتونونو او روزنیزو ورکشاپونو کې فرصت برابرول.
- د دولت او نړیوالو بنسټونو ملاتړ: د کوچنیو کاروبارونو د دوامداره ملاتړ لپاره د سیاستونو او پروګرامونو جوړولو په موخه د دولت او نړیوالو سازمانونو همکاري راجلبول.

## اخځلیک، منابع او سرچینې


**١ د رویداد خبري آژانس آنلاین پوښتنلیک (٢٠٢٥)**

په کوچني کاروبار کې د ښځو د وضعیت په اړه د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو د ١٢٣ ځواب‌ورکوونکو څخه راټول شوي معلومات.

**٢ رویداد خبري آژانس (٢٠٢٥).**

دافغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې له ښځینه نوښتګرو سره میداني مرکې. (ناخپاره شوي اسناد)

**٣ د اقتصادي چارو شنونکي سره مرکه (٢٠٢٥)**

محمد شاکر یعقوبي، اقتصادي کارپوه.

**۴ د افغانستان د ښځو د سوداګرۍ او صنایعو خونه (٢٠٢٥)**

د فریبا نوري څرګندونې؛ د ښځو د سوداګرۍ او صنایعو خونې رئیسه.
د وروستیو میاشتو په ترڅ کې د ١٠٠٠ څخه زیاتو ښځو لپاره د کار جوازونو صادرول.

### ۵ د افغانستان د ښځو د کرنې اتحادیه (۲۰۲۵)

ممتاز یوسفزۍ سره مرکه، د ښځو د کرنې اتحادیې رئیسه. د کرنې او لاسي صنایعو په برخه کې د ښځو د فعالیتونو پرتلیزه احصایه (۲۰۲۱–۲۰۲۵).

### ۶ ملګري ملتونه – د ښځو څانګه (UN-Women)

په افغانستان کې د ښځو پر کاري فرصتونو د محدودیتونو د اغېزو راپور، ۲۰۲۵

### ۷ د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP)

افغانستان کې له کوچنیو کاروبارونو د ملاتړ په اړه د ۲۰۲۵ کال د دسمبر ۱۰مه رسمي راپور. شمېرې: د ښځو په مشرۍ د ۸۹ زرو څخه زیاتو کوچنیو کاروبارونو د ملاتړ احصایه

### ۸ د افغانستان د اسلامي امارت رسمي څرګندونې (۲۰۲۵)

د ذبیح‌الله مجاهد څرګندونې؛ د اسلامي امارت ویاند، د ښځو لپاره د کاري سهولتونو د برابرولو په اړه.